بسم الله الرحمن الرحيم

# په ټولنيزو رسنيو کې ځان سانسوري او په افغانستان کې يې عوامل او اغېزې



self-censorship

وړاندې کوونکی:
څېړندوی عبدالرحمن الکوزی

# سریزه

- سانسور په بشري ټولنه کې له پخوا راهیسې یوه موجوده پدیده ده، چې د بیان، نظریاتو او معلوماتو د محدودولو لپاره کارول شوې ده. په لرغوني یونان کې، سقراط په ۳۹۹ ق.م کې د خپلو افکارو له امله په مرګ محکوم شو (Gyetván, D.. ) پخواني عصر کې سانسور عموماً د حکومت مستقیمه مداخله وه، ځکه د اړیکو لویې سرچینې د دولت تر مرکزي کنټرول لاندې وې او سختې سزاوې د خلکو لپاره د وېرې وسیله جوړېدې. خو په نني ډیجیټلي عصر کې، سانسور یوازې دولتي محدودیت نه دی. ټولنیز، اقتصادي او ټکنالوژیکي عوامل هم د بیان او نظریاتو محدودولو کې رول لري. ټولنیزو رسنیو د عامه فضا جوړښت بدل کړی؛ اوس میلیونونه کسان خپل نظرونه خپروي، د نورو نظریات ګوري، او څرګندونې شریکوي. سره له دې چې دا د بیان ازادۍ نوې لارې پرانیزي، همدارنګه د ځان‌سانسوري نوې بڼې هم رامنځته کوي، ځکه د ټولنیز قضاوت، څارنې او فشار له لارې خلک ځینې نظریات نه شریکوي.
- په دې کنفرانس کې به موږ د ځان‌سانسوري بیلابیلې بڼې، د ټولنیزو رسنیو اغېزې، او د دې پدیدې اصلي لاملونه په ژوره توګه وڅېړو.

**د څېړنې مبرمیت او موخې:** ټولنیزو رسنیو له پراختیا سره، په افغانستان کې د خودسانسورۍ په اړه علمي او احصایوي څېړنې محدودې دي. ډېرى خلک د ټولنیز فشار او وېرې له امله خپل نظرونه په ازاد ډول نه څرګندوي، خو دا پدیده په منظم ډول نه ده ارزول شوې. دا څېړنه د ځان سانسورۍ ډولونه، لاملونه او اغېزې په کمې ډول څېړي او د چو پتیا مارپیچ نظریې په رڼا کې یې تحلیل کوي. د څېړنې موخې دا دي په ټولنیزو رسنیو کې د ځان سانسوري د لاملونو پېژندل ،د ځان سانسوري د اغېزو پېژندل، په ځان سانسوري کې د ټولنیزو رسنیو د رول پېژندل

## په ټولنیزو رسنیو کې د سانسور نوې بڼې

- **۱- معکوس سانسور Reverse Censorship** امریکایي حقوقپوه Eugene Volokh د "ارزانه وینا" (cheap speech) اصطلاح کارولې ده، چې معنا یې دا ده: د ټکنالوژۍ په پرمختګ سره هر څوک کولای شي خپل نظر په لږ لګښت خپور کړي. اوس ستونزه د وینا موندل نه، بلکې د پام رااړول دي.
- د چین د انلاین محتوا د کنټرول لپاره بېلابېل میتودونه کاروي،
- لوی فایروال سیستم (Great Firewall)-
- د کلیدي ټکو بندول (keyword blocking)-
- ډکول (flooding)



# غیرمستقیم یا فرعي سانسور (Collateral censorship)

۱- د اصطلاح لومړی ځل Michael I Meyersonوکاروله. دا هغه حالت ته ویل کیږي چې دولتونه د بیان د اصلي لیکوال پر ځای د منځګړي خدمت ورکوونکي (لکه ټولنیزې رسنۍ) تر فشار لاندې راولي، څو هغه خپله د کاروونکو محتوا محدوده کړي.

**۳- ځان سانسوري**سانسور عموماً هغه حالت ته ویل کیږي چې یو بنسټ د بل چا بیان محدود کړي. خو د غیرمستقیم سانسور یوه بڼه ځان‌سانسور دی، چې پکې افراد «په خپله خوښه» داسې چلند کوي چې سانسور ته اړتیا پاتې نه شي. دې ته په الماني ژبه *Schere im Kopf* یعني: «په ذهن کې قیچي») هم ویل کیږي. خو ځانسانسوري تل د دې وېرې پایله نه وي چې ګواکې د خپرېدونکي محتوا له امله به بندیز ولګول شي؛ بلکې کېدای شي د شخړو د مخنیوي، د یوې ځانګړې مخاطب ډلې د ناراضه کېدو د مخنیوي، د قانوني دعوو د نه رامنځته کېدو،

یا د نورو نا مطلوبو پایلو د مخنیوي لپاره هم ترسره شي.



الف) عمومي ځان‌سانسوري (Public Self-Censorship)

ب) خصوصي ځان‌سانسوري ((Private Self-Censorship)

# د څېړنې پوښتنې

۱ـ کوم لاملونه دی چې خلک ځان سانسوري ته مجبوريږي؟

۲ـ په ټولنيزو رسنيو کې خلک په څه ډول ځان سانسوري کوي؟

۳ – ځان سانسوري اغېزې څه دي؟

# د څېړنې تاریخي شالید

❖د رسنیو راپورونه:

❖د «ځان‌سانسورۍ د ټولنیزو، سیاسي او رواني اړخونو له مخې د یوې پدیدې په توګه: نظري بنسټ او څېړنیزه شننه» مقاله (Daniel Bar-Tal (2017 پایلې: خودسانسورۍ انګېزې عموماً په دوو اساسي کټګوریو وېشل کېږي: شخصي ګټې (لکه د سزا مخنیوی او د انعام ترلاسه کول) او ډله‌ییزې ګټې (لکه د خپلې ډلې، نظریې یا مذهب ساتنه). (د فرانسوي عسکر له لوري وژنې)

❖ «د کار په بهیر کې څېړنه: په شمالي امریکا کې د ټولنیزو رسنیو ځان‌سانسور ته یوه لنډه کتنه» Wei Hu او Diogo Barradas (2023) ایلو وښودله چې د کاروونکو دیموګرافیک ځانګړنې، رواني شاخصونه، او سیاسي تمایل د دوې پرېکړه اغېزمنوي چې ایا هغوی ځانګړي موضوعات آنلاین مطرح کړي که نه. دغه موندنې ښیي چې خودسانسوري یوازې د بهرني فشار پایله نه ده، بلکې د فردي او ټولنیزو فکتورونو له تعامل څخه رامنځته کېږي.

❖«د چوپتیا انګازې: د ډیموکراتیک شاتګ په شرایطو کې د ټولنیز نفوذ له لارې د ځان‌سانسور رامنځته کېدل» Samson Yuen او Francis L. F. Lee (2025) : سروې ښیي چې افراد هغه مهال ډېر خودسانسوري کوي چې د کورنۍ او ملګرو له خوا د احتیاط سپارښتنې ترلاسه کړي یا د داسې کسانو سره په تماس کې وي چې خپله خودسانسوري کوي.

❖«د پاکستاني ژورنالستانو ځان‌سانسوري: لاملونه او اغېزې». د دوی موندنې څرګندوي چې ۸۷٪ خبریالان ځان د خودسانسورۍ له فشار سره مخ ویني، او ډېری یې د معلوماتو د خپرولو پر مهال محدودیت احساسوي.(Ayoub, Muhammad, et al. (2021

# نظري چوکاټ

- د چوپتیا مارپیچ تیوري د Spiral of silence» د» (Elisabith Noelle-Neumann ۱۹۸۴) د رسنیو د اغېزو له مهمو تیوریو څخه ده چې له مخې یې افراد خپل نظر هغه مهال څرګندوي یا پټوي، کله چې د ټولنې د حاکم نظر فضا وارزوي او وګوري چې اکثریت له دوی سره موافق دی که نه .کله چې زموږ نظر په ټولنیزو رسنیو کې له غالب نظر سره مخالف وي، موږ یې پټوو. دا یوازې روحي ساتندویه میکانیزم نه دی چې موږ د شخړې او رد کېدو له وېرې چوپ کوي، بلکې د پلېټفارمونو الګوریتمونه هم هغې محتوا ته لومړیتوب ورکوي چې له مخکې اکثریتي او مشهوره وي.
- **لومړی فکټور: رواني یا نفسي میکانیزم:** کله چې زموږ نظر په ټولنیزو رسنیو کې له عمومي یا غالب نظر سره توپیر ولري: موږ وېره لرو چې نور به راته بد رد عمل وښیي. ښایي ریشخند، سپکاوی یا انلاین برید وشي. د ټولنیزې انزوا احساس پیدا کیږي. نو د ځان د ساتنې لپاره موږ خپله خوله بندوو.

**دوهم فکټور: د الګوریتمونو رول:** ټولنیزې رسنۍ داسې الګوریتمونه لري چې هغه غه محتوا زیات خپروي چې ډېر لایک، شییر او تعامل ولري: هغه نظرونه پورته راولي چې لا دمخه مشهور وي.

- لږکي یا مخالف نظرونه کم ښکاره کوي /نو څه پیښیږي؟ غالب نظر لا پیاوړی کیږي. مخالف نظرونه لږ ښکاره کیږي.خلک فکر کوي چې ''ټول خلک همدا یو نظر لري
- مثالونه: د هند پاکستان جګړه، افغانستان پاکستان لارې بندېدل ...

# د چوپتیا مارپیچ



# د څېړنې میتودولوژي

دا څېړنه د میتود له مخې توصیفي ـ تحلیلي ده. د **کمي (Quantitative)** طریقې پر بنسټ تر سره شوې ده.

**د نمونې اخیستنې طریقه او اندازه:** په دې څېړنه کې د تصادفي نمونې اخیستنې له طریقې څخه کار اخیستل شوی دی. د نمونې ټولیز حجم د مورګان د جدول پر اساس ټاکل شوی چې ټولټال ۳۰ نفره کیږي.

**د معلوماتو راټولولو وسیله:** د معلوماتو راټولو لپاره پوښتنپاڼه کارول شوې چې ۱۸ پوښتنې لري. د لیکرټ څلور مقیاس سره اندازه شوي چې د ډیموګرافیکي پوښتنو سر سربېره په درې متغیرونو، د ځان سانسوري ډول، د ځان سانسوري لاملونه او د ځان سانسوري اغېزو باندې ویشل شوي دي.

**معلوماتو د تحلیل طریقه**

په دې څېړنه کې راټول شوي معلومات د SPSS 26 سافټویر په وسیله تحلیل شوي دي. معلوماتو د تحلیل لپاره تشریحي احصایې لکه فریکوینسي ( (Frequencyاو سلنه ( (Percentageکارول شوې دي

**احصایوي ټولنه**(Statistical population): ددې څیړنې احصایوي ټولنه د علومو اکاډمۍ د ټولنیزو علومو مرکز علمي غړي تشکیلوي.

**د پوښتنپاڼې اعتبار:**

**Reliability Statistics**

| Cronbach's Alpha | N of Items |
|---|---|
| .845 | 18 |

# په افغانستان کې د ټولنیزو رسنیو کارونه

- په افغانستان کې د ټولنیزو رسنیو د کاروونکو شمېر: یوولس اعشاریه ۵ میلون د ټول نفوس ۲۵،۵ فیصد
- د ټولنیزو رسنیو کاروونکو شمېر: ۵ میلون
- نارینه : ۸۶،۱ فیصد
- ښځینه: ۱۳،۹ فیصد
- فیسبوک: ۵ میلون
- میسینجر: دوه اعشاریه ۳۰ میلون
- انستګرام: یو اعشاریه ۸۵ میلون
- لنکدین: ۶۶۰ زره
- ایکس یا ټویټر: ۲۸۱ زره


- DataReportal. (2025). *Digital 2026: Afghanistan* [Report]. DataReportal – Global Digital Insights. https://datareportal.com/reports/digital-2026-afghanistan

# د ګډونوالو معلومات

| متغیر | کټه ګوري | شمیره | فیصدي |
| --- | --- | --- | --- |
| جنسیت | نارینه | ۲۷ | ۹۰٪ |
| | ښځینه | ۳ | ۱۰٪ |
| عمر | ۱۸ـ۲۶ | ۲ | ۶/۷٪ |
| | ۲۷ ـ ۳۵ | ۱۶ | ۵۳/۳٪ |
| | ۳۶ ـ ۴۵ | ۵ | ۱۶/۷٪ |
| | ۴۶ + | ۷ | ۲۳/۳٪ |
| تحصیل | دولسم پاس | ۰ | ۰ |
| | لیسانس | ۹ | ۳۰٪ |
| | ماستر | ۱۸ | ۶۰٪ |
| | دوکتور | ۳ | ۱۰٪ |

په دي څېړنه کې ټولټال ۳۰ تنه ګډونوال شامل وو. د جنسیت له مخې، ۲۷ تنه (۹۰٪) نارینه او ۳ تنه (۱۰٪) ښځینه وو. د عمر په لحاظ، د ګډونوالو اکثریت ۲۶–۳۵ کلونو ګروپ پورې اړه لري (۵۳/۳٪)، وروسته ۴۶ کلونو پورته (۲۳/۳٪)، ۳۶–۴۵ کلونو (۱۶/۷٪) او ۱۸–۲۵ کلونو (۶/۷٪) ګډونوال شامل وو. د تحصیل کچې له مخې، ۶۰٪ ګډونوال د ماستر سند لرونکي وو، ۳۰٪ لیسانس او ۱۰٪ PhD درلود، او هېڅ ګډونوال دولسم پاس نه و.

د نمونې لوړه تحصیلي کچه د دې احتمال زیاتوي چې ګډونوال د ټولنیز فشار، عامه نظر او انلاین مخاطبینو په اړه ژور درک ولري، چې دا د ځانسانسوري تحلیل لپاره مهم متغیر ګڼل کیږي.

# د ځان سانسوري چلند
# د ځان سانسوري ډول



| | د ځینو موضوعاتو په اړه هېڅ نظر یا تبصره نه وړاندې کوم | زه د پوسټ کولو مخکې ځو ځله فکر کوم چې ښايي ستونزه جوړه نه کړي | زه ځینې پوسټونه له خپرولو وروسته خپل پوسټ یا کمنټ لرې کوم. | زه خپل الفاظ بدلوم ترڅو ستونزه جوړه نه شي | زه په ټولنیزو رسنیو کې یوازې «منل شوي» نظرونه شریکوم |
|---|---|---|---|---|---|
| هیڅ | ۱ | ۱ | ۵ | ۱ | ۳ |
| ډیر کم | ۲ | ۲ | ۱۸ | ۵ | ۴ |
| ځینې وخت | ۱۲ | ۷ | ۴ | ۶ | ۴ |
| ډېر وخت | ۱۵ | ۲۰ | ۳ | ۱۲ | ۱۸ |

په ټولنيزو رسينو کې د ځان سانسوري د ډولونو په اړه د ترسره شوې سروې پورتني ګراف ښيي چې ۵۰٪ ځواب ورکوونکي وايي چې دوی ډېر وخت د ځينو موضوعاتو په اړه چوپ پاتي کيږي يا نظر نه ورکوي. ۴۰٪ ځينې وخت، ۳،۳ ٪ هېڅ او ۶،۷ ډېر کم انتخاب کړی. له پوسټ کولو مخکې د څو ځله فکر کولو په اړه ۶۶،۷ فيصده خلکو ډېر وخت، ۲۳،۳ ځينې وخت، ۶،۷ ډېرکم او ۳،۳ هېڅ انتخاب کړی. د پوسټونو د ډيليټولو په اړه ۱۰ فيصده ډېر وخت، ۱۳،۳ ځينې وخت، ۶۰ ډېر کم او ۱۶،۷ هېڅ ټاکلي. همدا ډول د الفاظ بدلولو په اړه ۱۶،۷ هېڅ، ۲۰ ډېر کم، ۴۰ فيصده ځينې وخت او ۲۰ ډېر وخت ته ځواب ورکړی. د منل شويو نظرونو دخپراوي په اړه ۶۰ فيصده ډېر وخت، ۱۳،۳ ځينې وخت، ۱۳،۳ ډېر کم او ۱۰ فيصد هېڅ انتخاب کړی دی.

# د ځان سانسوري لاملونه




| | د منفي تبصرو او عامه نیوکو ویره ما مجبوروي چې ځآن سانسوري وکړم | د انلاین سپکاوي او ګواښونو له امله ځان سانسوري کوم | د حساب بندېدو، ریپوټ کېدو او محدودېدو ویره ما مجبوري ځان سانسور کړم | تولنیز، کلتوري او مذهبي ارزښتونه ما ځانسوري ته مجبوروي | د کورنۍ، خپلوانانو او کارځای فشار زما پر محتوا اغېز لري | زه له سیاسي موضوعاتو سره د تړلو پوسټونو څخه ډډه کوم | زه احساس کوم چې زما انلاین فعالیتونه څارل کیږي |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| هیڅ | ۵ | ۶ | ۹ | ۴ | ۳ | ۰ | ۲ |
| ډېر کم | ۴ | ۵ | ۸ | ۵ | ۵ | ۳ | ۵ |
| متوسط | ۱۳ | ۱۱ | ۵ | ۶ | ۱۱ | ۴ | ۱۰ |
| زیات | ۸ | ۸ | ۸ | ۱۵ | ۱۱ | ۲۳ | ۱۳ |

د ځان سانسوري د عواملو په ګراف کې د منفي تبصرو او عامه نیوکو ویرې ته په ځواب کې ۲۶،۷ فیصده د زیات، ۴۳،۳ کسانو د متوسط یا ځینې وخت، ۱۳،۳ ډېر کم او ۱۶،۷ د هېڅ اپشن انتخاب کړی. د انلاین سپکاوي په تړاو ۲۶،۷ فیصده زیات، ۳۶،۷ فیصده متوسط، ۱۶،۷ ډېر کم او ۲۰ هېڅ انتخاب کړی. د حساب بندیدو، ریپوټ کیدو او محدودیدو په ځواب کې ۳۰ فیصده هېڅ، ۲۶،۷ ډېر کم، ۱۶،۷ متوسط، ۲۶،۷ زیات انتخاب کړی. ټولنیزو، کلتوري او مذهبي ارزښتونو ته په ځواب کې ۱۳،۳ فیصده هېڅ، ۱۶،۷ فیصده ډېر کم، ۲۰ متوسط او ۵۰ فیصده زیات انتخاب کړی. د کورنۍ، خپلوانو او کارځای فشار، ٪۱۰ هېڅ، ۱۶،۷ ډېر کم، ۳۶،۷ متوسط او ٪۳۶،۷ زیات ټاکنه غوره کړې. د سیاسي موضوعاتو له پوسټ کولو څخه ډډه کولو پوښتنې ته ٪۱۰ فیصده ډېر کم، ۱۳،۳ متوسط، ۷۶،۷ د زیات اپشن ټاکلی. د انلاین فعالیتونو د څارنې په اړه ۶،۷ هېڅ، ۱۶،۷ ډېر کم، ۳۳،۳ متوسط او ۴۳،۳ زیات ته رایه ورکړې.

# د ځان سانسوري اغېزې



د ځان سانسوري د اغېزو په برخه کې د ذهني فشار او اضطراب پیدا کېدو پوښتنې ته ۶،۷ فیصده د مخالف، ۱۶،۷ د نظر نه لرم، ۴۶/۷ ٪ موافق او ٪۳۰ ډېر موافق انتخاب کړی. د جعلي اکونټونو جوړېدو په اړه ٪۶،۷ مخالف، ٪۱۰ نظر نه لرم، ۵۰ موافق او ۳۰ ډېر موافق. د بې ځایه شخړو او لانجو مخنیوي په اړه ٪۱۰ مخالف، ۲۳،۳ نظر نه لرم، ۴۰ موافق او ٪۲۰ ډېر موافق. د محتاط او مسؤل بیان په اړه ٪۱۰ موافق، ۱۶،۷ نظر نه لرم، ۵۳،۳ موافق او ۱۶،۷ ډېر موافق ټاکلي دي. د خآن سانسوري د عادت بدلېدو په باره کې ٪۱۰ مخالف، ۳،۳ نظر نه لرم، ۵۳،۳ موافق او ٪۳۰ د ډېر موافق اپشن غوره کړی دی

# پایله

د څېړنې پایلې ښيي چې ځان‌سانسوري په ډیجیټلي چاپېریال کې یوه محسوسه او پراخه پدیده ده، چې یوازې یو فردي رواني تصمیم نه، بلکې له ټولنیزو، سیاسي او کلتوري عواملو سره ژور تړاو لري. پایلو وښودله چې تر ټولو قوي عامل د سیاسي موضوعاتو څخه ډډه کول دي، چیرې چې ۹۰٪ ګډونوالو منلې چې دوی د سیاسي محتوا له شریکولو ځان ساتي. دا نتیجه څرګندوي چې سیاسي فضا د بیان لپاره تر ټولو حساس ډګر ګڼل کېږي او افراد د احتمالي منفي پایلو له وېرې خپل نظر محدودوي. سربېره پر دې، د ځارنې احساس (۷۶.۶٪)، او د کورنۍ او کارځای فشار (۷۳.۴٪) هم د ځان‌سانسورۍ مهم عوامل ثابت شول. دا ښيي چې ځان‌سانسوري یوازې د انلاین فضا محصول نه دی، بلکې د افلاین ټولنیزو اړیکو او قدرتي جوړښتونو اغېز هم پکې شامل دی.همدارنګه، ټولنیز، کلتوري او مذهبي ارزښتونه (۷۰٪) د پام وړ رول لري، چې دا څرګندوي افراد هڅه کوي خپل بیان د ټولنې له حاکمو نورمونو سره عیار کړي. د منفي تبصرو، عامه نیوکو او انلاین سپکاوي ویره هم د پام وړ کچه لري، چې دا د ټولنیزو رسنیو د فشارناک طبیعت نښه ده. په ټوله کې، که څه هم ټولنیزې رسنۍ د بیان ازادۍ لپاره پراخ فرصتونه برابروي، خو هممهاله د ټولنیز فشار، سیاسي حساسیت او نظارتي چاپېریال له امله د ځان‌سانسورۍ کچه لوړه ساتي. دا حالت کولای شي د عامه بحث کیفیت کم کړي، د نظرونو تنوع محدوده کړي، او په اوږدمهال کې د انتقادي فکر د کمزورۍ کېدو سبب شي. د څېړنې موندنې **د چوپتیا مارپیچ** له تیورۍ سره همغږي لري، ځکه چې د دې تیورۍ له مخې افراد هغه مهال خپل نظر نه څرګندوي کله چې ځان په اقلیت کې احساس کړي یا د ټولنیز انزوا او منفي عکس‌العمل ویره ولري. د سروې پایلې ښيي چې د منفي غبرګون، څارنې او فشار احساس خلک دې ته اړ باسي چې خپل نظر محدود کړي. په پایله کې ویلای شو چې د ټولنیزو رسنیو په عصر کې ځان‌سانسوري یوه څو بعدي پدیده ده چې د بیان ازادۍ، ټولنیز جوړښت او سیاسي چاپېریال ترمنځ متقابل تعامل منعکسوي. د دې پدیدې د کمولو لپاره اړتیا ده چې خوندي ډیجیټلي فضا، د بیان د خوندیتوب میکانیزمونه، او د انتقادي بحث فرهنګ پیاوړی شي، څو د عامه نظر تنوع او ازاد بحث تضمین شي.

# مأخذونه


- DataReportal. (2025). *Digital 2026: Afghanistan* [Report]. DataReportal – Global Digital Insights. https://datareportal.com/reports/digital-2026-afghanistan.
- Hu, W., & Barradas, D. (2023). *Work in progress: A glance at social media self-censorship in North America*. IEEE.
- Bar-Tal, D. (2017). Self-censorship as a socio-political-psychological phenomenon: Conception and research. *Advances in Political Psychology*, *38*(Suppl. 1). https://doi.org/10.1111/pops.12391
- Yuen, S., & Lee, F. L. F. (2025). Echoes of silence: How social influence fosters self-censorship under democratic backsliding. *Democratization*, *32*(5), 1213–1238. https://doi.org/10.1080/13510347.2025.2455127
- Ayoub, Muhammad, et al. (2021). “Self- Censorship By Pakistani Journalists: Causes And Effects” Journal of Peace, Development and Communication, vol. Volume 5, no. Issue 1, 2021, pp. 130-142, https://doi.org/10.36968/JPDC-V05-I01-12
- Bar-Tal, D. (2017). Self-censorship as a socio-political-psychological phenomenon: Conception and research. *Advances in Political Psychology*, *38*(Suppl. 1), 37–65. https://doi.org/10.1111/pops.12391